نوې ژوند

افغانستان کې امریکا ستراتیژیکه ناکامي!!

جنګي جنایت، د امریکایي پروفیسر له نظره ..!!

لسم کال څلورمه، پر لپسې ۹۲ یمه کنه رجب ۱۴۳۷ هـ ق، اپریل ۲۰۱۶ م

- چرا رژیم کابل با روسیه پیمان میبندد؟
- د ۶ تنو اسیرو مجاهدینو د شهادت په اړه .....
- داسلامي امارت نبه تدبیر ددښمن پلانونه شنډ...
- دامامت اهمیت
- زندګی نامه عاصم بن ثابت رضي الله عنه
- د مرحوم انجنیر عبدالله ګل ریان صاحب...!
- ددیني مدرسو نویو فاضلانو ته!





مورچل

لسم کال څلورمه، پرلپسې ۹۲یمه ګڼه، رجب۱۴۳۷هق اپریل۲۰۱۶م

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	جنګي جنایت دامریکایي پروفیسور له نظره...!!.....	۳
۳	چرا رژیم کابل باروسیه پیمان میبند؟.....	۶
۴	داسلامي امارت ښه تدبیر ده بمن پلانونه شنډ او	۸
۵	درحوم انجنیر عبدالله ګل ریان صاحب په یاد څو.....	۱۱
۶	دامامت اهمیت.....	۱۴
۷	دجهاد فقهي مسائل.....	۱۶
۸	دسرمقالې لیکلو څلور مرحلې او پنځه ګوني اصول.....	۱۹
۹	حضرت داؤد علیه السلام له اتلولي څخه تر پیغمبرۍ...	۲۲
۱۰	دحمل ۱۶مه دافغان ولس دنیکمرغۍ ورځ.....	۲۸
۱۱	د۶تنو اسیرو مجاهدینو دشهادت په اړه دویاند.....	۲۹
۱۲	دطالب بندیانو اعدام که دجګړې اوږدوالی.....	۳۰
۱۳	زندګي نامه عاصم بن ثابت رضي الله عنه	۳۱
۱۴	دفدائي عملیاتو په هکله شرعي دلائل.....	۳۶
۱۵	دکابل اداري دستخباراتي ارګان په لسم ریاست دبرید..	۴۲
۱۶	ددیني مدرسو نوي فاضلانو ته !.....	۴۹
۱۷	ددعوت، ارشاد، جلب وجذب کمیسیون.....	۵۲
۱۸	جنګي جنایتونه.....	۵۳
۱۹	دمورچل وېبمي.....	۵۵
۲۰	د ۲۰۱۶ز کال دمارچ میاشت جهادي خبرونه.....	۵۷

علمي، سیاسي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــن خپل | ایـــوب صـــافی
حـــسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر | حافظ سـعـید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

افغانستان کې

دامریکا ستراتیژیکه ناکامي!!

مونږه پخوا او دامریکا څارونکیو ادارو اوسمهال هغه څه په ډاکه او اعتراف یې پرې وکړ، چې مخکې به یې پرې دخپل غروراو کبر ژامې خوځولې او ورځخه به یې انکار کاوه ،دامریکا او په مجموع کې دلویدیځ نړۍ تول حکومتونه، دخپل ولس اونړیوالو څخه هغه څه پټوي ،چې هغه ددوئ دستراتیژیکوکتو سره په تکرکې وي ،ددوئ زیاته هڅه داوي، چې خلکوته حقایق په مسخه شوي او معکوس شوي بنه وښایي اوله ځانګړوافرادنه پرته نور تول ملتونه او اقشار په ابهام اوتیارو کې وساتي ،داددې لپاره چې دولسونوداغفال اوناخبرې نه په استفادې سره به دوئ په ډیره اسانۍ سره وکړای شي، ترڅودحریت پالیو او خپلواکیو ولسونودیني او ملي ارزښتونه سبوتاژ اونورې هیوادنۍ مختلف النوع کتې چوراو غارت او دخپل شوم استثمارپه غاصبو پنجو کې یې دتل لپاره محکوم وساتي .

نړیوالورسنیو دافغانستان لپاره دامریکا دمرستواو بیارغونې دچارودڅار ادارې (SIGAR)هغه راپورخپورکړ، چې پینټاګون ته یې پکې دافغانستان حالات اندیښمنونکې ښودلې او هم یې پکې دکابل په اردو دعدم اعتماد یانه باورڅرګندونه کړي ،د(سیګار)ادارې مشر(جان سوپکو) کانګریس ته په خپل راپور کې ویلي، چې د امریکایي پوځیانو د ماموریت له پای ته رسېدو وروسته دېرې سیمې د طالبانو لاسته ورغلي او امریکایي پوځیان خپلو افغان پلویانو ته د سلامشورو، روزنې او د کره معلوماتو د راتولو په چارو کې پاتې راغلي دي، امریکایي رسنیو د (جان سوپکو) له قوله لیکلي، چې یوازې تېر کال له(۵۵۰۰)نه زیات افغان سرتیري په جګړو کې وژل شوي، مګر «امریکا او افغان حکومت تر اوسه هم په دې نه دي خبر،چې د افغان پولیسو او اردو رښتینې شمېر څومره دی او په دوئ کې هغه خلک څومره دي، چې رښتیا د جګړې په ډګر کې غښتلي وي.....

که دحقایقو تل ته وکورو! ربښتیا هم دلویدیځ او امریکا دافغانستان نیونې او همیشنې اشغال برنامه او داستثمارپلانونه افغانستان کې دځښتن تعالی په مرسته او دمجاهدینو دوینو په نذرانو دآندونواو اتکلونو خلاف ناکام شول ،نه چا ددوئ دداسې رسوا کوونکې ماتې تصورکاوه اونه دچا ذهن د دادول شرموونکې ماتې وراندوینه کولای شوه ،دوئ چې ورته څومره هیله درلوده ،هغه ددوئ دستراتیژی له مخې به ظاهراً خپل پوځونه له هیواده وباسي یوازې یو کوچنی شمیر پوځ به په یوه دیپلوماتیک نامه پریږدي او خلکو ته به داسې ذهنیت ورکړي، چې دوئ دافغانستان نیواک ته نه، بلکې بیارغونې او خپلواک افغانستان جوړونې ته راغلې وو،مکر حقیقت کې به دافغانستان دامورانو واکي نیغ په نیغه دهمدوئ په لاس کې وي او دچارو سوق اواداره به داشغالکروپه واک کې وي ، چې له نیکه مرغه یې دې پنځلس کلن جهاد کردې هیلې په نهیلی بدلې اوداتومي غرورهسک برجونه یې راونړیدل .

داشغالکروداسترتیژې وه، چې دیوې ځواکمنې اردوپه سوق او روزنه به ددوئ داشغال خوبونه پوره شي او دیوه کمشمیره عسکرو په میشتیدنه به دوئ افغانستان کې دولسي جهاد غورځنګ مهار کړي او له واشنګټن او بروکسل نه به پرې فرامین جاري کوي،چې لله الحمد داټول هسې خیالي خوبونه ثابت شول ،دادی خلکو ولیدل، چې ورځ تر بلې داسلامي امارت مجاهدین ددوئ په لاس دجور شوي ځواک ستر سترمراکز فتحه کوي او دکابل رژیم دنهایي ضعف او تزلزل په حالت کې قرار لري.

دعمري عملیاتو اعلان ددوئ ناسپیځلې ارادې په نطفه کې خنثی اودیوه فاتحانه سباوون دراختلوهیلې یې پیدا کړي ،دې کې هیڅ تردد او شک ندی پاتې ،چې نور امریکاییي نیواکګر عملاً افغانستان کې دمجاهدینو په وراندې مات شوي او دیو طویل المدت جنګ وس یې په عسکرو کې ندی پاتې ،خو هغه تجربه چې اشغالګریې تکرارول غواړي او داهم ځان ته دنجات یو فرصت بولې ،هغه دیوې بلې ستراتیژی په آند دسولې او روغې جوړې دندورې دي، چې داسلامي امارت مدبرانه قیادت دخپل اسلامي او سیاسي فراست له مخې په خپل وخت او زمان چورلټ رد او ځینې عاقبت نه سنجوونکې خلک ددې مکارو اشغالګروپه پنجو کې ښکیل شول، چې دروان جهاد تاریخ به یې له یادولومعاف نکړي او دوئ ته به دیوه سازش کارو او معامله کرو په سترکو وکوري .

زمونږ له نظره دامریکاپه مشری دټول لویدیځ هره پوځي او سیاسي ستراتیژي به، ددوئ دعسکرو غوندې ناکامه وي او دیره نږدې به مجاهدولس او نړیوال ددوئ دستراتیژیو دسبوتاژشاهد واوسي !

انشاءالله تعالی

موسی فرهاد

د امریکایي پروفیسر له نظره ..!!

جنګي جنایت

Professor Kevin Barrett فروفیسور کیون برټ ۵۷ کلن سپین پوستی امریکایی دی، د Madison میډیسون په ښار کې ژوند لري، د سان فرانسیسکو San Francisco او میډیسون Madison په مشهورو پوهنتونو کې استاذ او وتلی لیکچرار پاتی شوی .

نوموړي په لویدیځ کې په ربښتیا ویلو او سپینو خبرو کولو سره زیات شهرت موندلی دی. خو هغه مهال یې لا زیات د خلکو پام خان ته واړاوه چې د Truth Jihad ریښتیني جهاد په نوم کتاب یې ولیکه .

نوموړی همیشه پرداسی موضوعاتو لیکچرونه ورکوي چې لویدیځ د اسلامي نړۍ او مسلمانانو پر وړاندي ولي بي عدالتي او نا انصافي کوي ...؟!

څه موده وړاندي یې د یو مصری الأصله امریکایی مسلمان ۳۰- کلن طارق مهنّا Tarek Mehanna په اړه ، چې په امریکا کې د القاعده سره د تړاو په اتهام ونیول شو او بیا په ۱۷ کاله بند محکوم شو ؛ د هغه قاضی ته یو سرخلاصی لیک ولیکل چې په هغه کې یې د نورو سپینو خبرو ترڅنګ د افغانستان د قضیې په اړه هم څرګندوني کړي دي . دغه قاضي چې George A. O'Toole, جورج ا وُتول نومیږي ؛ په امریکا کې په دې متعصب او سخت زړي انسان سره شهرت لري .

په دې ډول معمولي خبره هغو خلکو ته د اعدام یا عمر قید سزاء اوروي ،چې په اصطلاح د ترهګرۍ په تړاو دوسیه ولري . طارق مهنا ته یې صرف په دې خبره ۱۷کاله سزاء واورولـه ، چې القاعده ته منسوب یو کتاب یې له عربي نه انګریزي ته ژباړلی وو .

موږ به په دې وړه لیکنه کې د نوموړي د خط خینې ټکي د لوستونکو د مالوماتو لپاره را نقل کړو :

پروفیسور کیون برټ لیکي :

ښاغلی جارج اوتول !

کوم شخص (طارق مهنا) ته چې تا کومه سزاء اورولي او مجرم مو ګرزولی ؛ زه غواړم چې

په راتلونکو ټولټاکنو کې هغه ته خپله رایه ورکړم .

او له تا څخه غوښتنه لرم چې په کوم جرم چې دې هغه سزاء کړی ؛ ماته هم فورا همغه سزاء راکړه .

زه علی الاعلان وایم چې هغه هیڅکله مجرم نه دی ، هغه د خپل حق آواز اوچت کړی . زه په ډاګه د هغو ټولو خبرو ذمه داري اخلم ، د کومو په وجه چې تا هغه مجرم بللی . زه د هغه له ټولو خبرو سره اتفاق کوم .

طارق مهنا چې د کوم کتاب ترجمه کړي ، هغه خو کوم جرم نه دی کړی ، هغه خو فقط له خلکو غوښتنه کړي چې د جنګي مجرمینو مقابله وکړي ، هغه مجرمین چې د دوي پر وطن او خاوره یې تیری کړی .

لهذا که ته ماته اجازه راکړي چې زه ستا په وړاندي په ښکاره اعتراف وکړم، چې زه د دې جرم ارتکاب په غاړه اخلم . بلکي زه له ټولو انسانانو غواړم چې د سترو جنګي مجرمینو پرخلاف د سر په بیه ودریږي .

زه په خاص ډول د افغانستان له هر وګړي څخه تأکیدا غوښتنه کوم چې د هغو جنګي مجرمینو پرضد وسله پورته کړي ، چاچې د دوی پر سرزمین یرغل کړی او یا یې د یرغلګرو مرسته کړي ده .

له هري ممکني وسیلي دې کار واخلي ، دغه جنګي مجرمین دي ګرفتار کړي ، که یې نیولای نشي ، نو د عام وژني د وسلي په ګډون دې له هیڅ رنګه وسلي څخه ډډه نه کوي او د تیري کوونکو په مقابل کې دي وجنګیږي ، دوی دې په زور له خپل هیواده او خپلي خاوري وشړي .

زه ټولو هغو خلکو ته همدا مشوره ورکوم ، د چا پرخاوره او حقوقو چې نورو تجاوز کړی دی . که پر امریکا بل څوک راځي برید پري کوي ، زه امریکایي ولس ته هم دا مشوره ورکوم او خپله هم همدا کار کوم .

قاضی صیب! جورج اوتول !

حقیقت دا دی چې پر امریکا لا له وړاندي د صهیونیستانو قبضه ده ، پکار دا وه چې امریکایانو لا پخوا وسله پورته کړي وای او د صهیونیزم له ولکې یې خان آزاد کړی وای .

جناب جج صیب!

په دې سزاء سره تاسو ښایی د امریکي قانون سپکاوی کړی وي ، دا کوم جرم دی چې د کتاب پر ژباړلو مو هغوی ته دومره سزاء ورکړه ؟ ښایی تاسو د دې سزاء ورکړي وي چې هغه سوریی ته سفر کړی و او د مسلمانانو له حاله یی خان خبر کړی ؤ .؟!

تا ته معلومه ده جناب قاضی صیب جورج اوتول ...!

زه څو خله په دې موخه دېرو اسلامي او نورو هیوادونو ته تللی یم ، لکه مراکش ، ګوایتی مالا ، کانادا ، فرانسه ، ترکي او دېرو نورو ته ، چې وګورم او په دې خان پوهـ کړم چې څنګه هلته هغه خلک چې پر آزادی ، حریت او حقوقو یې تجاوز شوی ؛ دوی د خان دفاع کوي ،.؟!

زه چې کوم خای ته هم تللی یم او هلته می له خلکو سره لیدنه کتنه شوي ؛ هغوی ته مي واضحه کړي ده ،چې د بین المللي قوانینو له مخي د یرغمل شده خلکو نه یوازي دا حق ده چې د خپلي آزادی لپاره مبارزه وکړي ؛ بلکي وربانـدي فرض ده چې د تیري په مقابل کې به دریږي .

دا خبره می په ترکیه کې په هغه غونډه کې خلکو ته په خطاب کې هم وکړه ،چې د تیري ګرمی په موسم کې هلته تللی وم او په هغه غونډه کې یو داسی ترکی افسر هم موجود و چې د امریکي د ایف بی آی د ډایریکټر هم رتبه ؤ .

بیله شکه چې همدا خبره نړیوال قانون هم کوي ، چې تجاوز او یرغل ترټولو بدترین جنګي جرم دی ، او د هغه په مقابل کې دریدل ، عین د قانون پلی کیدل دی .

جناب جج صیب ! که حقیقت ته وګورو ، طارق مهنا مجرم نه دی ، هغه د بین المللي قانون سره سم قدم پورته کړی ، د ظلم خلاف یې آواز اوچت کړی ، خلک یې د خپلو حقوقو او آزادی څخه دفاع ته رابللي . اصلاً مجرم ته یي ! تا د دې غټ جرم ارتکاب کړی چې هغه دي مجرم ګڼلی ، تا د ظالم ننګه کړي . زه بیا تکراروم چې د نورو پر آزادی ، او د نورو پر هیوادونو یرغل کول ترټولو بدترین جنګي جنایت دی .

د پروفیسر ډاکټر کیون برټ ، په اوږده لیک کې دېري نوري خبري هم شته چې ما یی فقط هغه برخه را نقل کړي چې اړینه مې ګڼله . دغه امریکایی پروفیسر چې د بین المللي حقوق پوهـ دوکتورا لري ؛ په ښکاره وایی چې د نړیوال قانون له مخي پر افغانستان د امریکا یرغل یو جنګي جنایت دی ، یرغل کوونکي جنایتکاران دي ، او هغه څوک چې ورسره مرسته کوي ؛ ټول د جنګي جرم مرتکبین دي .

باید چې په وړاندي یې له هرډول وسیلې څخه کار واخیستل شي . دا نه یوازي د افغانستان د خلکو حق جوړیږي ، بلکي وربانـدي لازمه ده چې د خپلي آزادی او خپل حق دفاع ته لاس ترزني پاتي نشي . ...!

پای ....!

چرا ژنیم کابل با روسیه پیمان میبندد؟

سعید (بدخشانی)

پس از آنکه غرب وشرکای جُرم بین المللی اش با همه نیروی رزمی ،تکنالوژی،هوا پیما های بم افگن،اسلحه کشتارجمعی وپیشرفته اش در برابر ملت مجاهد پرور ونیروهای امارت اسلامی بشکست دندان شکن مواجه گردیدند،و اقتصاد شان نیز ازبین رفت،همچنین توقعاتی که از مزدوران فراشوت شده غربی خود داشتند بدست نیامد،عاقبت عقل آخر خود را به اول آورده ،وبه جنایات نابخشودنی وشرم آور خویش پی برده شمار عساکر وحشی خود را کاهش داده به مراکز مستحکمی مانند پایگاه هوای بگرام جمع شدند ،حالا آمریکای ها از جیره خواران اداره کابل بشکل ابزار ویک دیوار دفاعی استفاده می نمایند وآنها را در برابر مجاهدین استخدام وبه کام مرگ می کشانند.

بلی!امریکای های کینه توز هنگامیکه در نبرد رویا روی ونظامی در مقابل فرزندان راستین اسلام وسپاهیان سربکف امارت اسلامی تاب مقاومت را ازدست دادند وهزارن جنرالان بلند رتبه،مشاورین باتجربه وعساکر خون آشام شان رهسپار جهنم گردید، باتمام دبدبه وغرورکه در سطح جهان داشتند در افغانستان زمین گیر شدند، باالآخره رسماً اعتراف بشکست نظامی کرده گفت جنگ در برابر طالبان دیوانگی است،زیرا اینها نه از مرگ هراسی دارند،ونه از سلول های زندان می ترسند ونه هم شداید فقر وگرسنگی ایشان را مأیو می سازد.

لذا دشمنان انسانیت واسلامیت از حربه ای دیگری(ملیشه سازی) کار گرفت،جوانان بی خبر وجنگسالاران متقاعدی را که در دور نخست تجاوز بی رحمانه شان دیدی آر ddr نموده ،خانه نیشن ساخته بود،بار دیگربه مراکز آموزشی بلک واتر جلب کرده وبا هزینه هنگفتی در برابر ملت مظلوم ومجاهدین تقدیم نمود تا که به این وسیله دوره سیاه ،غارت وچپاول را برملت ستم دیده ورنج کشیده افغان تحمیل نماید.

بدون تردید ملیشهای تربیه شده غرب دست به اعمال نامشروع وغیر انسانی زدند،اما دزدان

اربکی بجز اینکه واکنش ملت را در برابر خود برانگختند،ودر هر منطقه از سوی مجاهدین کوبیده شدند،به یاری پروردیگار ملت متدین بطور روز افزون به صفوف برادران مجاهد خود یکجا می شودند و در برابرپدیده منحوس دموکراتان غرب دست به مبارزه مسلحانه زدند وهمواره این سلسله بسرعت ادامه دارد.

لله الحمد اکثر اراضی کشور تحت پوشوش وحاکمیت نظام اسلامی در امده وان شاءالله العزیز عنقریب است که اسلام عزیز در تمام نقاط کشور حکم فرما گردد.

چرا سران اداره مسلوب الاختیارکابل در صدد بستن پیمان درازمدت با روسیه اند؟

بنظرمن بنا بردو دلیل است:اول:اینکه اکثریت قاطع وافراد کدری اداره پوشالی کابل از بقایای کمونیستان و اشخاصی هستند که در دوران حاکمیت رژیم بدنام کمونیستی میلونها مردم بی دفاع ما را به دستور باداران سفاک شان شکنجه های گونا گون،معیوب،وبطور دسته جمعی بشهادت رسانیدند ویکعده دیگری مجبوراً کشور را ترک گفته مهاجر شدند،بناءً کمونیستان وفادار روس بشکل ماهرانه وزیر عنوان اینکه روسیه نسبت به غرب در همسایگی ما قرار دارد،به مشکل ما رسیده گی میتواند،لذا خواهان امضاء توافقنامه های نظامی،استخباراتی وپورژه های انکشافی شدند.

این درحالی است که حکومت های قبلی با مداخله صریح روسها منحل گردید،ملت متدین کشور نهایت کوبیده شدند،قریه ودهات در پی بمبارد مان کور کورانه آنها همانند دور تجاوز غربی ها به مخروبه مبدل ساخته شد،خانم ها،کودکان وریش سفیدان زیر آورهای خاک شدند،باغیات ومزاریع مردم قلع وقم شد،باز بکدام دلیل این جنایت کاران تاریخ وخائینین ملی با روسیه پیمان می بندند.؟!

دوم:چونکه غربی ها بسرکردگی اژداهای بزرگ(امریکا)به غرض بلعیدن اسلام ومجاهدین راه حق به کشور ما هجوم نظامی وفرهنگی آورده بودند،نه اینکه به این مقصد نرسیدند،برعکس بلحاظ اقتصادی،نظامی،سیاسی بلکه در تمام میادین در برابر مجاهدین غیور شکست خورده وبه زانو درآمدند.

لذااداره اشرف غنی وعبدالله به وساطت جنگ سالار وغلام باوفای روسیه(دوستم گلم جم) دست به دامان روس دراز می کنند.اما ملتی که بادست خالی امپراطوری غرب را به قهقرا کشانید به نصرت پرودیگاربنی سفاکان شرق را نیز بخاک خواهد مالید.

وماذلک علی الله بعزیز.

حسن زوی

داسلامي امارت ښه تدبير

ددښمن پلانونه شنډاوهيلې خاورې کړې

د نړۍ په سطح چې اوسني حالات په پام کې ونيسو نو د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی وفات يوائې يوه د غم او درد پېښه نه وه بلکې دا د نړۍ په سطح يوه عظيمه حادثه وه چې يې د اسلام او مسلمانانو په درد، درد ېدونکي ټول مسلمانان سخت غمجن، د مسلمانانو دراتلونکي په اړه سخت فکرمند او دروان عظيم جهاد په هکله ډېر د تشويش سره مخامخ کړل، اوبرعکس د اسلام او مسلمانانو ټول دښمنان دې حادثې سخت خوشحاله کړل.

ځکه چې هغه د هغه تحريک بنسټ ايښودونکی او دهغه اسلامي امارت مشرو کوم چې دې هېوادته دلوي فساد او انارشيزم نه نجات ورکړ، ملت او هېواد يې دټوټه کېدونه وژغورلو؛ په افغانستان کې يې يو داسی سوچه شرعي نظام نافذ کړ چې مسلمانانو ته يې د خيرالقرون وختونه او حاکميتونه وريا د کړل او د کفرپر ټولو ماڼيو يې د غم او وېرې فضا قائمه کړه او بياهمدې د خدای په فضل د انسانی تاريخ دتر ټولو ستر کفري اتحاد پر ضد په کوچني افغانستان کې په عادي او کمزورو وسايلو نه يوائې داچې په پوره کاميابۍ سره يې جنګ جاري وساتلو بلکې دداسی شرمونکي شکست سره يې مخامخ کړل چې اوس د تېښتې لارې لټوي خو نه يې مومي او د طالبانونه په سوال سوله غواړي خو سوال يې نه قبلېږي.

د اميرالمؤمنين دوفات نه پس د طالبانو وحدت په تفرق بدلېدل او په صفونو کې يې درزونه راپېدا کېدل امريکا او نورې غربي نړۍ ته نسبتًا اسان او د هيلو نه ډک هدف ښکارېدلو نو ځکه يې ددې لپاره شپه او ورځ پر ځانونو يوه کړی وه؛ د اسلامي امارت پر ضد يې دتبليغاتو ډکر ګرم کړی و، ډېرې وړې خبرې يې لويولې او په تېرو وختونو کې امارت ته منسوب يو ورکوټی تن به هم که مخالف غږ پورته کړ نو هغه تن به يې د امارت ديو لوی غړي په نوم ياداوه او همدا کوچنی پورته شوی مخالف غږ به يې په امارت کې په لوی درز تعبيراوه.

که دکوم وړوکي وسلوال ګروپ په اړه به د بغاوت خبر خپور شو نو د امارت په دوه ټوټه کېدو به يې ياداوه.

اسلام ته وفادار د نړۍ ټول مسلمانان دې حالت غمجن کړي وو او د راتلونکي په اړه ور سره سخت تشویش و

د اسلامي امارت د رهبري شوری او د افغانستان علماء و لپاره ډېره د سخت امتحان نه ډکه مرحله وه چې الله تعالی ډېر لوی فضل وکړ او دا دواړه یې پدې امتحان کې کامیاب کړل او ورته یې د مسؤلیت د ادا کولو توفیق ورکړ د رهبري شوری تقریبًا ټول غړي د ملا اختر محمد منصور په نوم پر هماغه شخص متفق شول کوم باندې چې امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی اعتماد کړی و او خپل نائب یې جوړ کړی و .

د افغانستان مخلص شیوخو او علماؤ مجاهدین او عام مسلمانان د نوی امیر المؤمنین سره بیعت ته راوبلل چې ټولو مخلصو مسلمانانو د دوئ بلنې ته لبیک وویلو ؛ په ډېر جوش او جذبې د بیعتونو لړۍ پیل شوه او په ډېر ښه شان یې دوام وموندلو .

په یو امیر المؤمنین د قیادت اتفاق او د ولس راټولېدلو اسلامي امارت د ټوټه کېدو نه وساتلو ، د درزونو مخه ونیول شوه او د خدای په فضل اسلامی امارت یو موټی او متحد پاتی شو چې ورسره د دښمن ټولې هڅې ناکامې او امیدونه یې د خاورو سره خاورې شول.

هو ! د اسلامي امارت ځینو پخوانو مسؤلینو خپل بیعتونه وروسته کړل خو چې عملاً یې بغاوت نه وکړی نو الله تعالی دوئ ټول د اسلامي امارت د صف سره یوځای کړل او ټولو دنوي امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور سره بیعتونه وکړل .

داچې د امریکا او نورو ټولو شیطاني کړیو د اسلامي امارت د صف ټوټه ټوټه کولو لپاره خورا ډېرې زیاتې هڅې وکړې خو پکې په تمامه معنی ناکام شول نو که د انصاف په نظر وکتل شي ربښتیا داده چې د دښمن په مقابل کې د اسلامي امارت د مشرانو او د افغانستان د علماء کرامو او محترمو شیوخو ډېره لویه کامیابي ده .

باید دا له یاده ونه باسو چې اسلامي امارت د خپل صف وحدت ته تر بل هر څه زیات ارزښت ورکوي خو د وحدت د تحقق او ساتنې په پلمه د شریعت د اصولو نه چا ته د تېرېدنې اجازه نه ورکوي او نه پکې خیر ویني ؛ د دننو ستونزو او مشکلاتو د حل لپاره تل د اسانو لارو په لټه کې وي ؛ تر څو چې په اسهلو طریقو کار کېږي نو د سختی نه اجتناب کوي .

د اسلامي امارت قیادت د هغه جابرو قیادتونو په څېر ندی چې په خدمت بوختو تنانو ته د مشین د مړو پرزو په نظر وګوري او مسلوب الرای یې وګڼي ، په اصولو کې دننه ټول مشران او کشران د خپلو رایو د ښکاره کولو حق لري ؛ د دایرې نه وتل او د اصولو هغه مخالفت چې د صف وحدت ته پرې تاوان رسېږي اسلامي امارت یې د سخت تاوان نه ډک کار بولي خو

ددایرې نه دوتونکو ملګرو له منځه وړل او د مخې نه یې لرې کول د حل لارنه بولي بلکې داسې ملګرو ته اطمینان ورکول او بېرته یې په خپل صف کې راشاملول کامیابه پالیسي بولي چې له نېکه مرغه د امیرالمؤمنین ملا عمر مجاهد رحمه الله د وفات د خبر د خپرېدا او د نوي امیرالمؤمنین سره د بیعت پر مهال همدا درېځ خپل کړای شو ؛ هغه تنان چې د امیرالمؤمنین د وفات نه پس یې یا په بیعت کې تاخیر کولو یا یې بیعتونه کړی و خو د مسؤلیت اخستلو نه یې ډډه کوله اسلامي امارت د نړۍ د نورو متشددینو په څېر دوئ ته د تاوان رسولو ؛ ورته د ګواښونو کولو یا یې د زور د لارې د تابع ګرځولو پالیسی خپله نکړه بلکې په ډېر دانسته او د قدر نه ډک اندازیې دوئ ته د اطمینان ورکولو هڅې وکړې چې الله تعالی پدې هڅو ښه نتایج مرتب کړل ، دوئ یو په بل پسې بېرته خپل صف ته راغلل او د نوی امیرالمؤمنین ملا محمد اختر محمد منصور حفظه الله سره یې بیعتونه وکړل تر دې چې د رهبری شوری غړی محترم ملا عبدالقیوم ذاکر صیب هم دامیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور سره بیعت اعلان کړ.

او ورپسې موږ دا زیری هم واورېدلو چې د عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وروره ملا عبدالمنان عمري ته د قیادت او رهبري شوری له لورې د رهبری شوری غړیتوب او د دعوت او ارشاد د کمیسیون ریاست ورکړل شو .

همدارازد امیرالمؤمنین مشرزوی مولوی محمد یقوب مجاهد ته د رهبري شوری غړیتوب او په نظامي کمیسیون کې د هېواد د ۱۵ ولایتونو مسؤلیت وروسپارل شو ؛ دوئ دواړو دا مسؤلیتونه قبول او رسماً یې په خپلو ورسپارل شویو دندو پیل وکړ .

د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی د درنې کورنۍ دې دواړو مهمو غړو ته د دې سترو مسؤلیتونو ورسپارلو د نړۍ او هېواد ټول ژمن مسلمانان او خصوصاً مجاهدین سخت خوشحاله کړل .

د اسلامي امارت د مشرانو ښه تدبیر فکري اعتدال ؛ د نامشروع تشدد نه لرې والی ؛ کامیابه پالیسي ، مرحوم امیرالمؤمنین ته وفاداري او خپلو عالي اهدافو ته ژمنتیا یې ټولې نړۍ ته ښکاره کړه او دښمن چې لا یې هم د اسلامي امارت د ماتېدو هڅې کولې او پدې اړه یې هیلې ښکاره کولې هڅې یې ناکامې او ټولې هیلې یې دخاورو سره خاورې شوې.

موږ دا یو ډېر مثبت اقدام او نیک فال بولو او امېدلرو چې په نظامي کمیسیون کې به د محترم مولوي یعقوب مجاهد دا لوی مسؤلیت په سر تا سري افغانستان کې د مجاهدینو په روحیاتو مثبتې اغیزې وکړي ؛ د جهاد سنګرونه به ښه ګرم شي او انشاءالله د ټولو اشغالګرو د تېښتې شپې ورځې به ډېرې رالنډې شي.

د مرحوم انجنیر
عبدالله گل ریان صاحب
په یاد څو کرښې!

قاري حبيب

د مرحوم انجنیر ریان صاحب له نوم سره له کوچنیوالي بلد وم، په خدام الفرقان، ندای حق،خلافت، کندهار مجلو او د نورالمدارس مدرسې په نورالجرائد جریده کې مې له ډیرو مضامینو سره د عبدالله گل ریان نوم لید، دده له جالبو او عام فهمه مضامینو مې ډیر څه زده کړې و ، یو ارمان مې دا و چې کاشکې یو ځل مې لیدلی وای. خو الله تعالی وروسته دا ارمان داسې راپوره کړ چې په لیدو سربیره ورسره د همیشنی ناستې او مجالسو موقع هم راته برابره شوه.

له تیرو څه کم اتو کلونو راهیسې مې له انجنیر عبدالله گل ریان سره تعارف پیل شوی و،د هغه سره له مجالسو مې دا وفهموله چې هغه که څه هم په انجنیر صاحب مشهور و خو یوازې انجنیر نه و، هغوی د ژور دیني علم څښتن و، هغه یو پټ او عملي صوفي و چې د عرفان په هغو باریکیو پوهیده چې شاید ډیر د تصوف مدعیان تر خبر هم نه وي، هغه په فلسفه کې هم ژوره مطالعه درلوده.

هغه د قحط الرجال په دې زمانه کې له هغو کوتشمیر کسانو څخه و چې که غوښتې دې وای له هر مجلس څخه دې د یوه لیکچر په کچه استفاده تر ې کولای شوای، هغه د معاصرو ایزمونو له ماهیت څخه په دقیق ډول خبر و او ژوره مطالعه یې په کې درلوده،هغه په دیني علم خصوصا سیره النبي ، اسلامي تاریخ او اسلامي سیاست کې داسې مهارت درلود چې په نورالمدارس مدرسه کې یې دیني طالبانو ته همدغه مضامین تدریسول او مستقل تصنیفات یې په کې درلودل.

هغه په مجلس کې د خپل علم داظهار شوق نه درلود، خو کله به چې تر ې وپوښتل شول نو بیا یې د هر ې علمي او اجتماعي موضوع په اړه نوی او عجیب تحلیل مجلس ته وراندې کاوو چې د مخاطب د زیاتې توجه ور به کړځیده.

انجنیر ریان صاحب د افغانستان د اسلامي انقلاب له ډیرو پخوانیو مبارزینو څخه و، نوموړي له ۱۳۵۲ لمریز کال راهیسې د کمونیزم په خلاف مبارزه او قلمي جهاد پیل کړی، نوموړي د کمونیستي رژیم لخوا دوه ځله ونیول شو او د زندان له سختو تکالیفو تیرولو وروسته بیرته خوشی شو.

د روس ضد جهاد په دوران کې يي ټوله موده د جهادي صف په تعليمي، فرهنګي او دعوتي دفاترو کې کار وکړ،د جهاد له بريا وروسته لومړی څه موده د سرې مياشتې په خيريه موسسه کې کار وکړ مګر وروسته چې کله تنظيم بازي او خپل منځي جنګونه د فراګير فساد او فتنې تر کچې ورسيدل نوموړي دنده پريښوده او د غزني په قره باغ کې يي په خپل پلرني کلي کې ژوند پيل کړ.

دغه مهال که نوموړی له يوې خوا په نورالمدارس مدرسه کې استاد و ، بله خوا يي د خپل کلي په سطحه ماشومانو او ځوانانو ته د سواد او علم د ښودلو هڅه هم کوله، د نوموړي د هڅه په برکت ډير ځوانان د علم په ګينه سمبال او زده کړو ته وهڅيدل.

مرحوم ريان صاحب دومره د علم د خپرولو تنده درلوده چې يو وخت يي د خپل کلي په مسجد کې کليوالو ځوانانو ته د نبوي سيرت د درس حلقه جوړې کړې او ځوانان يي د خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم له ښکلي ژوند او کارنامو څخه خبرول.

د اسلامي امارت په واکمن کيدو سره مرحوم ريان صاحب لومړی په کندهار کې د پوهنتون رئيس وټاکل شو چې ورسره همزمان يي د امارت په چاپي مطبوعاتو کې د سلسله وارو ليکنو او مقالو خپرولو لړی هم پيل کړه، د امارت په وروستيو کلونو کې نوموړي د بهرنيو چارو په وزارت کې د رئيس په حيث دنده پيل کړه او تر هغه وخته يي خپلې دندې ته دوام ورکړ تر څو امريکا په افغانستان بريد وکړ.

مرحوم ريان صاحب له امريکايي بريد وروسته يو ځل بيا له هيواده په هجرت کولو اړ شو،په دې وخت کې په داسې حال کې چې له سختې اقتصادي تنګسې سره مخامخ و او حتی د پيسې په پور کولو سره يي کورنی ګوزاره روانه وه، خو بيا يي هم نه خپله په اجير حکومت کې د کار کولو هوس وکړ او نه يي خپلو په زده کړو سمبالو زامنو ته دا اجازه ورکړه چې د ګوډاګي رژيم يا کومې مؤسسې په دفتر کې کار وکړي.

مرحوم ريان صاحب د غربت ، فقر او مهاجرت سخت ژوند په ځان تير کړ، اما خپل ځلاند تاريخ يي داغدار نه کړ، هغه چې له مختلفو مراحلو راتير شوی و نه خو يي په دې ټولو دورو کې د افغانستان په کوم ښار يا شهرک کې يوه لويشت ځمکه وموندله او نه په ديارهجرت کې د خپل کور، موټر او سرمايې خاوند شو.

هغه داسې پاک جهاد وکړ او داسې پاک را اوسېد چې د ژوند پاڼه به يي د هر واقعي مجاهد او مبارز لپاره د غبطې وړ وي، د ژوند په وروستيو کې هغه له ټولې تنګلاسی سره سره د يوې ديني مدرسې د جوړولو کار پيل کړ او په خپل شخصي لګښت او هڅو يي د دارالحکمت په نوم ديني مدرسه

تأسیس کړه، چې دوه کاله یې تدریسي چارې سرته ورسولې او اوس هم کن شمیر ماشوم طالبان په کې تعلیمات ترسره کوي.

په همدې مهال چې نوموړی د عمر ٦٣ کلنی ته رسیدلی و، کله ناکله به یې ویل چې نور د زیات عمر امید نلرم، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په همدې عمر له دنیا ځخه رحلت کړی و، همدا و چې د سرطان مرض ورته عارض شو او له دنیا ځخه یې سترګې پټې کړې.

انا لله و انا الیه راجعون

الله تعالی دې د مرحوم انجنیر ریان صاحب ټول خدمات په خپل دربار کې قبول کړی او الله تعالی دې په خپله رضا او دیدار ونازوي .

دشهیدانو دجنازو یه اړه

استفتاء : محترم مفتي صاحب ! دیری مجاهدین اوس دشهیدانوجنازي په موټرو کې وړي که څه هم هدیرې دیرې نږدې وي ، نوپوښتنه داده : چې په دې کې خوبه کوم شرعي کراهیت نه وي ؟ یوسائل.

الجواب: حامدا ومصلیا وبعد: انسان په ژوندکې هم محترم دی اودمرګ نه وروسته هم ،بیاشهید ترعامو مړیو دیر مکرم دی ،اوفقهاؤ لیکلي دي :چې په سبرلیو باندي هدیرو ته دمړو انتقال مکروه دی ،خکه په دې کې دمړو اهانت راخې ،نوکه عذرنه وي دشهیدانو جنازي دي په اوږو وړل کیږي.

في التبیین ١\٥٨٣ ویکره [الجنازة] علی الظهر والدابة . کذا في مراقي الفلاح ص\٦٠٣ وزاد لفظ بلاعذر الخ وفي حاشیة الطحطاوي علی مراقي الفلاح : قوله : بلاعذر اما اذاکان عذر بان کان المحل بعیدا یشق حمل الرجال له اولم یکن الحامل الاواحد ا.

وفي الفتاوی الولوالجیة ١\١٦٦ جنازة الصبي احب من حمله علی الدابة لان الصبي محترم کالبالغ، وفي الحمل علی الدابة اهانة واهانة المحترم مکروه.

دامامت اهميت

مفتي ابومارية

د فراغت وروسته دعالم د لويو مصروفيتونو څخه يوهم امامت دی، امامت چې فقهاء يې لوی ديني مسئوليت ګڼي په دوه ډوله دي: يويې امامة كبرى اوبل امامة الصغرى دی ، موږ تاسوته دلته له امامة الصغرى څخه بحث کوو ،

لومړی :

دامامة الصغرى " يعني په پنځه وخته لمونځونوکې په جماعت سره دخلکودلمانځه امامت کول دي"

فضيلت :

- ✓ الله تعالى چې څمکي ته څومره انبياء اورسولان را استولي، نوهغوئ ته يې له امامة كبرى سره دامامة صغرى وظيفه هم ورکړيوه ، لکه الله تعالى چې فرمايې : وجعلناهم ائمة يهدون بامرنا . انبياء ۷۳ . دلته ډيرومفسرينوهمدغه وړوکی اولوی دواړه امامتونه اخستي .
- ✓ جبرائل عليه السلام دوه ورځې ددغه امامة الصغرى وظيفه درسول الله صلى الله عليه وسلم دتعليم لپاره سرته رسولې وه . کمافي حديث امامة جبريل المشهور .
- ✓ رسول الله صلى الله عليه وسلم له بعثته بيا تررحلته له امامة كبرى سره په امامة الصغرى پاتې شوی ،تردي چې ډيرو علماوو په نزد له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه فرضي لمونځونه بې امامته نه دي ثابت.
- ✓ درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وروسته دځلورو سره خلفاوو په خپل نوبت کې له امامة كبرى سره همدغه وظيفه هم وه .
- ✓ امامة په تولنه کې تل دنيکو اوغوره خلکو وظيفه ګرځيدلې،
- ✓ اوالله تعالى په قرآن کريم کې دعبادالرحمن [دالله تعالى دخاصو بندګانو] صفت ګڼلی : واجعلنا للمتقين اماما :
- ✓ رسول الله صلى الله عليه وسلم ددوئ په هکله فرمايلي : اللهم ارشدالائمة . الحديث. علماء ليکې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم امام اومؤذن دواړو ته دعاء کړي ده ،مګر دجماعت دلمانځه امام ته يې داسې دعاء کړي ده چې ددارينو لپاره يې کفايت کوي .

- په مرقات کې راغلي چې په امام پسې دځومره خلکو اقتداء وشي اودی په صحیح طریقه سره لمونځ اداء کړي، د هغوټولو خلکوپه لمونځونوکې دده برخه شته ،دیلګې په ډول که په یوامام پسې شل یاسل کسه دجماعت لمونځ اداء کړي، نوداسې ده لکه ده چې په همدغه یوه وخت کې شل یاسل لمونځونه اداکړو .
- لمونځ ددین له اساساتو څخه دی . اوپه جماعت سره اداکول یې داسلام له شعائرو څخه ده، نوامام همدغه ددین بنیاداواساس قائموي اوداسلام شعائر ژوندي ساتي.

اوداسې نور ...

ځرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دنیا څخه رحلت وکړ ،اوهغه نه وروسته بل نبي نه راځي اوددین په رسولو کې لوی خدای ج دهغه نائبان علماء پیداکړي دي ، نواوس دهمدغه علماوو مسئولیت دی ،چې ځرنګه ددې دین حفاظت وکړي اوځه ډول دغه دین ترخلکوورسوي ،

اوله بل پلوه که څه هم امامة کبری اوس په ټوله نړۍ کې له اهل الحق څخه اخستل شوی مګر الله تعالی تراوسه پوري هغوئ له امامة الصغری څخه نه دی محروم کړي ، نو دعلماوو مسئولیت دی چې دغه دین دهمدغه امامة الصغری له لاري څخه خلکوته ورسوي ،دهغوئ دایمان تحفظ وکړي ، دهغوئ اصلاح ،تهذیب ،اوتربیه وکړي .

له همدي ځایه معلومیږي چې امامة دامت داصلاح ،هدایت ، ... اوتربیې لپاره په دین کې څومره اړین منصب دی ، خودافسوس ځای دادی چې خلکو دا یواځې یواقتصادي منصب ګرځولی ،اودامامة اصلي هدف له یوي مخې پاتې شوی ،بلې خواته داسلام دښمنانو له هرډول وسائلو څخه کار اخستی اوپه ځانګړي ډول په تبلیغاتي ډګر کې یې له هرلوري په مسلمانانو پراخ یرغلونه پیل کړي ، نږدي ده چې زمونږ دسپینږیرو ،ځوانانو اوماشومانو دټولو ذهنونه اوافکار مسخه کړي .همدغه لامل دی چې په دي عصرکې خلګ تربل هروقت له دین څخه بیګانه شوي ، والی الله المشتکی .

خوداچې درب العزة لوی احسان دی چې هغه دین نه ورک کوي بلکې ددې دین لپاره لکه سنګر ته چې زلمیان راپیداکوي [عن جابربن سمرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم . لن یبرح هذالدین قائما یقاتل علیه عصابة من المسلمین حتی تقوم الساعة . رواه مسلم . مشکوة ۳۳۰

همدغسې منبر ته هم ځوانان راپیداکوي، نوځکه وایو چې په دې عصرکې دځوانانو علماوو نه یواځې مسؤلیت دی بلکه دایې مکلفیت هم دی چې خپل دغه سنګر په هماغه ډول سنبال کړي لکه ځرنګه چې ددې امت لمړۍ طبقې سمبال کړی ؤ .

نوربیا...

فقهي مسائل

دجهاد

۲۸مه برخه)
مفتي ابو محمد (ملتاني)

له ويش نه مخکې ددښمن دمالوتو او وسلو استعمالول !

په (الموسوعة الفقهية)کې ليکي :چې کـه چيرته مجاهدين له کفارو څخه غنايم ونيسي، دارتيا او ضرورت په صورت کې دخوراک لپاره دهغې غنيمت شويومالونويا مواشيوو حلالول او ذبحه کول جايز دي، چې هغه مأکول اللحم او دغوښې خوړل يې روا وي ، ددې مأکول اللحم مواشيوحکم دنوروخوراکي توکيو يا خوراکي غنايمو غونـدې دی ،دغنـايمو لـه مينځـه ددې ماکول اللحم مالونويوازې غوښه خوړل روادي او ددې خوړل شويو مالونوله پوستکويا څرمنـو څخه له ويش اودمجاهدينو تر مينځ له تقسيم نـه مخکې نوره مزيده استفاده نده روا ،نو که چيرته ددې لـه څرمنـو څخـه څپلـی ،داوبـوظرف (جی)،داوبو بوقه يا بل شئ جوړ کـړای شي ، پـر مجاهدينو يې بيرتـه دغنيمـت مـال تـه ردول يـا واپس کـول واجـب دي ،(يعنـي يـوازې دغوښـې خوړل يې روا دي، چې هغه د مجبوريت له امله، نوريې له څرمنې څخه هر ډول شخصي- استفاده ناروا ده)،نورو کتـابونو دا مسـئله دضرورت تـر پولې پورې محدوده کړې ده ،هغوئ وايـي: چـې که چيرته ضرورت مبرم و،نو بيـا ورتـه د ضرور ت په اندازه دغنيمت له هغه مال څخه چـې قبـل التقسيم يا ويشل شوی نوي ، څه شئ را اخسـتل روا دي ،چې ضرورت رفـع شـو، نـو بيـا بـه يـې متباقي بيرته غنيمت ته ورسپاري!

همداسې دحنفي مذهب دفقهـي کتـابونوهم ليکلي ،چې مجاهد ته دضرورت پر وخـت دمـال غنيمت څخه له تقسيم وړاندې په دارالحرب کې له خوراکې توکيو نه ګټه اخستل روا دي، خو دا صورت هغه ځای پورې منحصر دی ،چې يـو خـو

دارالحرب وي نه دارالاسلام، او بل داچې له تقسيم نه مخکې وي، نه وروسته ،(يعنې که چيرته غنايم دارالاسلام ته انتقال شي، نو بيا ترې مجاهدين له ويش نه مخکې استفاده نشي- کولای ،ځکه ددې سره دنورومسلمانانوحقوق نړل شوي دي)،همدامسئله په(الاشباه والنظائر- حنفي) کې پدې عبارت سره رانقل شوي: (ما أبيح للضرورة يقدر بقدرها .....والطعام في دار الحرب يؤخذ على سبيل الحاجة لأنه إنما أبيح للضرورة قال في الكنز : وينتفع فيها بعلف وطعام وحطب وسلاح ودهن بلا قسمة وبعد الخروج منها لا وما فضل رد إلى الغنيمة.../الاشباه والنظائر-حنفي ج١ص١٠٧) .

کله چې مجاهدين ددشمن سپی (کلب عقور)ونيسي :

که چيرته مجاهدينوددښمن سپی ومونداو دمحاربو کفارو څخه يې غنيمت کړ،نو که چيرته داسپی داړونکی (کلب عقور)و،نولدې امله دې يې ووژني، چې دې سپي کې خطر او ضرر دی ،خو که چيرته پکې مجاهدينو ته منفعت واو کړم ډول ګټه يې ترې اخستلای شوه، نو بيا دې يې هغو غانمينويا غازيانو ته اويا اهل الخمس ورکړي ،څوک چې ترې کار اخستلای شي او ګټه ترې ترلاسه کولای شي ، (لکه نن سبا چې امريکايان ځانونو سره ټريننګ شوي سپې راولي او دخلکو کورونو کې مجاهدينو او دمنفجره موادو پسي لټه کوي ،داډول سپي هغه غنيمت دی چې مجاهدين ترې دځان په ګټه هم کار اخستلای شي، نو بايد چې همدوئ ته يې وروسپاري او ونه وژل شي) ،خوکه چيرته بيا همداسې سپې چې قابل استفاده دي، مګر مسلمانانوکې کوم داسې څوک ماهر اشخاص او ددې داستعمال ماهرين نه وو، چې ددې سپو له مهارتونو نه ګټه واخلي، نو بيا دې يې خوشي کړي، ځکه له اړتيا پرته يې ساتنه حرامه ده، لکه (الموسوعة الفقهية) چې پدې عبارت سره ليکي :(يجوز أن يذبح من الغنائم للأكل ما يؤكل لحمه وذلك لأنّه كسائر الطّعام ، ولا يجوز أن يعمل من أهبها حذاء ، ولا سقاء ، ولا دلاء ، ولا فراء ، فإن اتّخذ منه شيئاً من ذلك وجب ردّه في المغنم . وإن أصابوا كلباً ، فإن كان عقوراً قتل لما فيه من الضّرر ، وإن كان فيه منفعة دفع إلى من ينتفع به من الغانمين أو من أهل الخمس ، وإن لم يكن فيهم من يحتاج إليه خلّي لأنّ اقتناءه لغير حاجة محرّم .(الموسوعةالفقهية ج ١٧ص ١٧٦).

که چيرته مسلمانانوته دکفارو مواشي يا مالونه په لاس ورغلل او غنيمت يې کړل ،خو دبيرته ورتللو اوتښتيدلو له امله انديښمن

وواودا ویره ورسره وه ،چې هسې نه چې بیرته دښمنانوته ورشي، نوکه چیرته له حیواناتونه په غیر نور مالونه وو(غیر ذي روح غنایم وو)،نو له مینځه وړل یې ورته روا دي ،مجاهدین کولای شي، چې تلف او له مینځه یې یوسي ،داددې لپاره چې کفارترې ګټه وانخلي او ددې په وجه دښمنان قوی نشي، خو که چیرته حیوان و، نو بیا یې له ضرورت نه په غیر له مینځه وړل ندي جایز، بلکې دسختې اړتیا نه په غیر به یې له مینځه نه وړې، ځکه دا ژوندی مال دی او تلف کول یې روا ندي.

تنفیل :

امام یا دمسلمانانو امیر ته ددې جواز شته ،چې دمجاهدینو دتشویق،ترغیب او تحریض لپاره ووایې ،چې چا کوم کافر وواژه، دهغه وسله او ورسره سامان دهغې مجاهدلپاره انعام شو،دا کارددې سبب کیږي ،چې مجاهدین په شوق او رغبت سره دحربیانو په وړاندې وجنګیږي ،خو ددې لپاره داشرط شته، چې دا اعلان به دجنګ نه بعد نه کوي، بلکې ددې نه وړاندې به یې کوي لکه په (العنایة شرح الهدایة)کې داسې لیکي : (وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُنَفِّلَ الْإِمَامُ فِي حَالِ الْقِتَالِ وَيُحَرِّضَ بِهِ عَلَى الْقِتَالِ فَيَقُولَ " مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ " وَيَقُولَ لِلسَّرِيَّةِ قَدْ جَعَلْت لَكُمْ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ) مَعْنَاهُ بَعْدَمَا رَفَعَ الْخُمُسَ لِأَنَّ التَّحْرِيضَ مَنْدُوبٌ إلَيْهِ ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى { يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضْ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ } .....(وَلَا يُنَفِّلُ بَعْدَ إحْرَازِ الْغَنِيمَةِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ) لِأَنَّ حَقَّ الْغَيْرِ قَدْ تَأَكَّدَ فِيهِ بِالْإِحْرَازِ .العناية شرح الهداية ج۸ص۲۵).

دتنفیل او انعام اعلان دامام لخوا یو مندوب کار دی او کولای شي، چې مندوباًیې مجاهدینو ته جنګ کې ددوئ دترغیب او تحریض لپاره ووایې ،دې سره به مجاهدین پر دښمن تندریزې اوفدایې ډوله حملې وکړي او ډیر زیان به ورته واړوي.

ابو ظهیر

د سرمقالې!

لیکلو څلور مرحلې او پنځه کوټې اصول

الف: تبصره وتجزیه:

په ځینو سرمقالو کې د پیښې له بیان وروسته دسپیناوي پر ځای په پیښه تجزیه یا تبصره کولی شي، سرمقاله لیکونکی حقایق او واقعات تجزیه کوي دهغو په حسن او قبحه دواړو رڼا اچوي ، د دلایلو وړاندې کولو او یا د کومې پریکړې کولو پر ځای په پوره بیطرفی دلوستونکو په وړاندې د یوې خاصې پیښې د امکاني اسبابو او متوقع نتایجو په بیانولواکتفاء کوي ،هم دا راز دسپیناوي برخې پشان دتجزیې او تبصرې برخې اوږدوالی دسرمقالې په نوعیت او د لیکونکي په فکر او پالیسی پورې تړاو لري په هغو سرمقالو کې چې یواځې سپیناوی تري مقصود وي په هغو کې دتجزیې او تبصرې اړخ روښانه وي.

با: بحث و دلایل:

دحقایقو د بیان او د سپیناوي وروسته چې سرمقاله لیکونکی دحقایقو تجزیه کوي او بیا یې په اړه خپل دریځ وړاندې کوي نو د ثبوت لپاره به دلایل وړاندې کوي،په دغه برخه کې دسرمقاله لیکونکي دذهني او فکري صلاحیتونو ازموینه وي چې دخپلو دلایلو دقوت لپاره مستند حقایق، معتبر ارقام ،مسلم اصول او قواعد وړاندې کړي مؤثره او کامیابه سرمقاله انحصار په همدې پورې لري؛ هغه(سرمقاله لیکونکی) چې دخپل ذهن او شعور نه په کار اخستلو سره په دغه برخه کې هر څومره قوي دلایل وړاندې کړي هغومره به یې دلایل وزني او منطقي وي او هم سرمقاله به مؤثره گرځي.

په سرمقاله کې د دلایلو برخه اگرکه له نورو برخو نه یوځه اوږده وي خو محدودگنجایش ته په پام سره ضروري ده چې هره خبره په کمو الفاظو کې په مؤثر بڼه وړاندې کړای شي، یواځي مؤثر او کره دلایل راوړي، د بې معنی مثالونو او کیسو څخه ډډه وشي که په سرمقاله کې دکومې مسئلې سپیناوی او دهغې شالید بیانول ضروري و بیا ددلایلو راوړو اړتیا نشته.

نتیجه ـ فیصله ـ پیغام او رایه:

لومړی اصل: دپای برخې لپاره دالفاظو غوراوی:

دسرمقالې په وروستۍ برخه يا پای کې فيصله يا نتيجه راوړل کېږي ،رايه او تجويز وړاندې کېږي،هغه ډېره لنډه وي، ددې برخې معياريتوب او غير معياريتوب دسرمقالې په لومړ يو برخو پورې اړه لري، خو دغه مهال هم سرمقاله ليکونکی بايد ديته پام ولري چې پای کې هغه په رابنکونکې او په زړه پورې توګه دټول بحث حاصل او خپله پريکړه وړاندې کړي، د دغې برخې لپاره دالفاظو غوراوی نهايتي موزون او مؤثر پکاردی څو لوستونکي له کوم تأمل پرته يقين وکړي چې سرمقاله ليکونکی سل په سل نتيجې ته رسيدلی او دی ور سره داتفاق کولو پرته بله چاره نلري.

دويم اصل:د سطحيت نه ډډه کول

دسرمقالو دنه مقبوليت يوه لويه وجه دا هم ده چې پکې دسطحيت سلنه ډېره وې! سرمقاله ليکونکي لپاره ضروري ده چې هسي خامخا خبرې ته طول ورنکړي اونه يواځې کالم پوره کول هدف و ګڼي، هر،هر لفظ د ښه سوچ او غور وروسته و ليکي ،ځکه بريالیتوب اومقبوليت هغو سرمقالوته په برخه کېږي چې دهغو هره ، هره کرښه معلوماتي او فکربښونکې وي، په کم نه کم الفاظو کې زيات دلايل اوپريمانه معلومات وړاندې کول سرمقاله مؤثره ګرځوي په سرمقاله ليکونکي فرض ده چې هغه به له سطحيت نه ډډه کوي او د خپلې رايې په وړاندې کولو کې به له بيړې کار نه اخلي بلکې دمعلوماتو تل ته درسيدو وروسته به نتيجه ترلاسه کوي.

دريم اصل: له مشکلو او غير ضروري الفاظو ځانه لرې ساتل

ليکنه هغه مهال جامع او کره ګڼل کېږي چې پکې غير ضروري الفاظ شتون ونلري، پېچلي ترکيبونه، مبهم فقرات اومشکل الفاظ ليکنه بې خونده ګرځوي، دورځپانې سرمقاله دکومې خاص ډلې نه، بلکې دعوامو او خواصو ټولو لپاره وي، دهغې په لوستونکو کې نيمه لوستونکي هم راځي، ددې لپاره دمشکلو الفاظو نه ډډه ضروري ده، که په کوم ځای کې دکومې اصطلاح راوړل ضروري وو،هلته بايد خامخا دالحاظ وساتل شي چې دهغې په ليکلو د عبارت مفهوم مغلق و نه ګرځي؟ او سياق او سباق نه په اسانۍ سره هغه فهم کيدا شي؟

څلورم اصل: ربط او تسلسل:

ربط او تسلسل دهرې مؤثرې ليکنې يوه اهمه ځانګړتيا ده، په سرمقاله کې چې کوم نظريات ، حقايق، دلايل، رايې او فيصلې راوړل کېږي د هغو ټولوترمنځ ربط او تسلسل ضرور دی، ټوله ليکنه داسې پکارده چې لومړی هر حقيقت بيان شي بيا د هغه اهميت او د هغه دمضمراتو سپيناوی پکاردی، وروسته د لايلو په مرسته دهغه دځرګندو او پټو اړخونو په اړه رايه وړاندې کول پکاردي داعمل بايد داسې سرته ورسي چې يوصداقت دبل صداقت سرچينه وبرينښي او لوستونکی داسي

محسوس کړي چې ګواکې ټول دلايل اوحقايق په اميل کې پيښ شوي دي په اسلوب کې دومره ربط ، تسلسل او دومره رواني پکاړده چې لوستونکی پخپلو څپو کې د ځان سره لاهوکړي او په زړه کې يې دا تاثر واچوي چې سرمقاله ليکونکي خپله رايه نه؛ بلکې دده داحساساتو ترجماني کوي؛ ددې برعکس که کره دلايل اوحقايق هم داسې وړاندې شي چې يوه خبره ديو ځای بله دبل ځای او په منځ کې يې کومه بله کيسه هم ځای شي نوپه دې سره بې ربطي او ګډوډي راځي او لوستونکي دسرمقاله ليکونکي سره له ملتيا څخه انکار کوي که هغه په نه زړه هم ټوله سرمقاله ولولي ؛ خو بيا هم دذهني ګډودی او پريشانی سيوا بل څه به و نه مومي ،له دې وجې په سرمقاله کې يواځې معلومات ځايول بسيا نکوي دسرمقاله ليکونکي دبري راز يواځې په حق ويلو او لاپر واهې کې مضمر ندی بلکې هغه په پوره توګه دسهي خبرو کولو سليقه هم ولري.

پنځم اصل:

ځواکمن او مؤثر اسلوب:

دسرمقالې مؤ ثرګرځولو لپاره داندونو مربوطوالی هم بسيا نکوي بلکې دالفاظو سهي ترتيب،او پخپل ځای د مناسب استعمال ترځنګ دوينا قوي اسلوب لپاره ضرور ده چې افکار په تسلسل سره يوځای او په مناسبو الفاظو کې راوړل شي، ځواکمن اسلوب! يعنې ښه اندونه او کره دلايل په ښو اومؤثرو الفاظو کې اداءکول دخيالاتو دروانی ترځنګ په الفاظو کې هم راوانې او تاثير ضرور دی.

وروستی (څلورمه) مرحله:

دويم واري کتنه:

د ليکلو څخه وروسته سرمقاله دويم وارلوستل پکاردي، دويم واري لوستلو کې لاندې خبروته پام ضروري دی:

۱ - په سرمقاله کې سهوًا چې کوم الفاظ ياخبرې په ناسمه توګه ليکل شوې دهغو تصحيحول.

۲ – د دويم وار لوستلو پرمهال دځينو الفاظو په ځای غوره او مؤثر الفاظ چې ذهن ته راځي دژبې دښکلا لپاره دهغو کارول او په الفاظو کې مناسب ردوبدل کول.

۳ – که دسرمقالې دعبارت په کوم ځای کې مشکل او ثقل وي هغه اسان او عامه فهم ګرځول

۴ – سرمقاله ديولوستونکي په نظر پخپله لوستل او کتل چې ژبه يې روانه ده که نه؟ که چيرته ابهام ،تضاد يا تعقيد په نظر ورځي هغه ليرې کول.

۵ – په پای کې له ځان وپوښته! ايا رښتيا هم دا غوره سرليکنه ده؟ که ليکونکی يې په غوره والي خپله ډاډمن نه وي ورباندې نور زياردي وياسي.

حضرت داؤد علیه السلام

له اتلولۍ څخه تر پیغمبرۍ پوري

عبدالمالك همت

مخکنۍ اړیني څرګندوني:

له مصر څخه د موسی علیه السلام او د هغه د قوم (بني اسرائیلو) تر وتلو او د فرعون او د هغه د پوځونو تر غرقېدو وروسته لوی څښتن جل جلاله موسی علیه السلام ته فرمایلي یې وه چي بني اسرائیل وګوماره چي فلسطین فتح کړي. نو کله چي موسی علیه السلام او بني اسرائیل دغي سپېڅلي ځمکي ته ورسېدل هلته یې د کنعانیانو او حیثانیانو له پاتي شونو څخه جبار اوظالم وګړي وموندل. موسی علیه السلام بني اسرائیلو ته امر وکړ چي بیت المقدس ته ننوزي، د دغو ظالمانو سره جهاد وکړي او له دغه ځایه یې وباسي. خو څنکه چي په بني اسرائیلو کي د تدبیر او جهاد ته د اقدام واک او جوهر له منځه تللی وو او د عزت تر ژوند یې د ذلت ژوند تر سترګو ښه ایسېدلی وو، له دښمن څخه د وېري او د آرامۍ او هوسایۍ د خوښوني له امله یې له جهاد څخه ډډه وکړه. د موجود بایبل د څرګندونو سره سم دوی وویل کاشکي موږ په مصر یا دې دښت کي مړه سوي وای .خدای ولي په دې خلکو موږ وژني؟ بیایې په خپلو منځو کي سره وویل راځئ چي یو بل څوک خپل مشر وټاکو او بیرته مصر ته ولاړ سو. خو له هغو دوولسو تنو څخه چي د فلسطین د احوالو د معلومولو لپاره مصر ته تللي وه او په دې هکله یې رپوټ وړاندي کړ یوازي حضرت یوشع علیه السلام او کالب نومی جهاد ته چمتو وه او نور یې هم ور ته وهڅول، اما بني اسرائیل د دوی د سنګسارولو په تکل کي سول او موسی علیه السلام ته یې وویل:

﴿ يَا مُوسَى إِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا أَبَدًا مَا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ (٢٤)﴾]المائده ٥: ٢٤]

ژباړه :ای موسی! تر څو چې هغوی (دغه زورور خلک) هلته (په دغه سپېځلي ښار کې) وي موږ هیڅکله نه ورځو، (نو په موږ کار مه لره او که د دوی سره جګړه په کار ده ، نو) ته او ستا پالونکی ولاړ سئ او ورسره وجنګېږئ، موږ دلته درته ناست یو.

موسی علیه السلام چې د دوی دا نټه او بې غیرتي ولیدل لوی ځښتن ته یې وویل: ای زما ربه زه له خپله ځانه او خپل وروره پرته پر بل چا څه واک اختیار نه لرم، نو ته موږ له دې فاسقانو څخه بېل کړه. هغه وو چې لوی ځښتن په دې جرم پر دوی باندې هغه هیواد تر څلوېښتو کلونو پورې حرام کړ. بیا دوی د فاران او د هغه د شاوخوا سیمو په دښتونو کې نتلي او اسکېرلي ګرځېدل، څو دغه ټوکم چې د ذلت او تیټ ژوند سره عادت سوی وو له منځه ولاړ او نوي او د رشتیني اسلام او مړاني په روحیه روزل سوي ځوانان راپور ته سول.

د فلسطین فتحه:

کله چې د سزا څلوېښت کاله پوره کېدو ته نژدې سول حضرت هارون علیه السلام د ادوم پولې ته نژدې پر "هور" غره باندې وفات شو. وروسته موسی علیه السلام بني اسرائیل د "موآب" سیمې ته ننه ایستل. د دې سیمې تر فتحه کولو وروسته د "موآب" د درې د "عباریم" پر غره باندې وفات سو. د ده پر ځای د یوسف علیه السلام له لمسیانو څخه یو تن حضرت یوشع علیه السلام چې د نون زوی او یوسف علیه السلام له لمسیانو څخه وو، د ده لومړی خلیفه شو. هغه د شام او نورو ځایونو د جابرو واکمنو سره جګړې وکړې او د "اریحا" ښار یې فتحه کړ. دا د فلسطین لومړی ښار وو چې د بني اسرائیلو په لاس ورغی. بیا یې په ډېره لږه موده کې فلسطین فتحه کړ او پر ډېرو نورو ځایونو یې هم واک وموند. تر دې بریو وروسته هم په بني اسرائیلو کې شر او ورانکاریو په ډول ډول بڼو سر را پورته کړ، ستر جرمونه یې تر سره کړل او ډېر پیغمبران یې شهیدان کړل، چې لوی ځښتن د دې ګنهونو له امله سختي سزاوي ورکړې.

په فلسطین کې بېلابېل مشرک ولسونه مېشت وه. د دوی د ډېرو بداخلاقیوله امله د دوی عبادت ځایونه د فحاشیو او بدکاریو مراکز ګرځېدلي وه. واکمنو یې په ظلم او جبر شهرت موندلی وو. په تورات کې بني اسرائیلو ته دنده وکړه سوې وه چې دغه بدکاري ولسونه او ظالم واکمنان له هغه ځایه وباسي. خو دوی دې لارښوونو ته شا کړه او هلته یې یو متحد حکومت تینګ نه کړ، بلکې د دوی دوولسو قبیلو له فتح سوو سیمو څخه څینې د خپل قبایلي عصبیت پر بنسټ سره ووېشلې او د نن مهال د عربو غوندې کوچني کوچني حکومتونه یې پکښې جوړ کړل.

په دې ډول دوی او په فلسطین کې پخواني استوګن مشرکین ګډ اوسېدل او پای د دوی د ګډ اوسېدو له امله د دغو ولسونو ټولو شرکیاتو،اخلاقي مفاسدو، فحاشیو او عیاشیو دوی ته سرایت وکړ.

یوشع علیه السلام د مرګ تر ساعته پر دوی حکومت وکړ. کله چې وفات سو څو تنو قاضیانو تر څه مهاله د چارو واګې په لاس کې واخیستې، خو څه خاص واک یې نه درلود. بیا لوی څښتن پر دوی باندې ظالم او جابر واکمنان مسلط کړل. بالاخره پایله دا سوه چې په فلسطین کې د دوی ټول دښمنان د دوی پر ضد سره یو سول او د پرله پسې بریدونو په پایله کې یې دوی د فلسطین له زیاتې برخې څخه بې برخې کړل. تر دې چې په یوه خونړۍ جګړه کې یې دوی ته سخته ماته ورکړه. د دوی ښځې او ماشومان یې اسیران کړل او هغه صندخ یې چې د دوی سپېڅلي کتاب تورات پکښې خوندي وو او دوی "د عهد صندخ" (د لوی څښتن د ژمنې صندخ) باله او ډېر برکتي وو او د دوی د بري او ډاډ وسایل پکښې خوندي وه او دوی به په جګړو کې د پوځونو په مخ کې وړی څنې یو وړ. ډېر وختونه په دې توګه پر تېر سول څو د دوی د یوه پیغمبر او قاضي سموئیل (شمویل) وخت راورسېد.

د طالوت واکمني:

شموئیل تر ډېرمهاله پر بني اسرائیلو حکومت وکړ. کله چې زوړ سو بني اسرائیلو له خپل دې ناوړه حالت څخه د راوتلو او د دښمنانو سره د مقابلې کولولپاره له سموئیل څخه وغوښتل چې یو پاچا ورته وټاکي څو ټول د هغه تر بیرغ لاندې را غونډ سي او د هغه په مشري د لوی څښتن په لار کې وجنګیږي. څنګه چې سموئیل ته د دوی خوی بوی او د ضعف ټکې معلوم وه، نو یې ورته وویل چې بیاخو به داسي نه وي چې د جنګېدو امر درته وسي او تاسي نټه وکړئ. هغو ورته وویل داسي کله کېدای سي چې موږ له خپلو کورونو څخه ایستل سوي یو او زمونږ مېرمني او ماشومان له موږ څخه بېل کړی سوي وي او موږ به نه جنګیږو ؟ خو کله چې لوی څښتن دوی جګړې ته وګومارل، له یو لږ شمېر کسانو پرته نورو ټولو نټه وکړه.

سموئیل دوی ته خبر ورکړ چې لوی څښتن ستاسي د غوښتني له مخې طالوت بن قیش تاسي ته د پاچا په توګه ټاکلی دی. هغه د یعقوب علیه السلام د ډېر بې وزلي زوی بنیامین له اولادې څخه یو بې وزلی او عام پوځي وو، خو ډېر غښتلی او هوښیار او عالم ځوان وو، اما څنګه چې مشهور او معروف سړی نه وو او د دوی د اند سره سم باید واکمنان د یهودا له توکمه وای او نبوت په لاوي قبیله اړه درلوده او له بلې خوا دوی ته مال او شته د عزت او شرف

نخښه ایسپده، نو دوی د تکبر او ځان غوښتني له مخې اعتراض وکړ چې دا خو یو عادي او نشتمن سړی دی، دا یې څنګه پر موږ باندې واکمن کړ ؟ سموئیل ور ته وویل: دا لوی څښتن ستاسي لپاره غوره کړی دی او د ډېر علم او ښه روحي او جسماني ځواک خاوند دی او لوی څښتن چې چا ته یې خوښه سي واکمني ورکوي. لنډه دا چې طالوت (چې په تاریخونو کې "شاول" ور ته وایي) په ۱۰۴۰ قبل المیلاد کال د دوی واکمن وټاکل سو. د هغه د واکمنۍ په زمانه کې د هغه د ښې واکمنۍ او د لوی څښتن له لوري د پاچا په توګه د هغه د ټاکلو د نخښې په توګه دوی ته لوی څښتن د تورات صندوق چې د دوی د عزت او شرف پانګه پکښې خوندي وه او د دوی د زړونو د ډاډینې وسایل او د موسی او هارون علیهما السلام د کورنیو ځینې آثار او د تورات لوحې پکښې وې، ېرته په لاس ورور . طالوت د بني اسرائیلو ټول قبایل یو موتی کړل، دوی یې جهاد ته وګومارل او ستر پوځ یې پر فلسطین باندې د مسلطو بت پالو ظالمانو سره د جګړې په موخه وخوځاوه. کله چې دوی د دښمن لښکرو ته نژدې سول او له یوه سیند څخه پوري وتل، طالوت د دوی د اطاعت او جنګي مورال دازمایلو لپاره ورته وویل چې له دغه سیند څخه د تېرېدو پر مهال له یوې، نیمې لپې اوبو چیښلو پرته، د تندي د ماتېدو په اندازه ډېرې اوبه مه چیښئ. که چا ډېرې وچیښلې زما له پیروانو څخه نه دی. اما له دې امر څخه اکثرو سر وغړاوه او ډېر پوځیان ګردسره تر سیند پوري نه وتل او پر شا ولاړل. طالوت هم دغه بې ارادې او سست عنصره کسان چې مازي د لښکر شمېر په ډېر سوی وو او نور د هیڅ ورهنې نه وه خوشې کړل او د ده د امر منونکي صادق او مومن وګړي یې د دښمن سره مبارزې او د لوی څښتن په لار کې جهاد ته چمتو کړل.

د اتل داود لخوا د جالوت وژل:

جالوت)جُلْيَات یاجولِیَت) چې د فلسطینیانو د لښکرو مشر وو په زړه ورتیا او غښتلتیا یې نوم ایستلی وو، خو ډېر ظالم وو او ټول ځني ېرېدل. ده ډېر ستر او په جنګي وسایلو سمبال پوځ راغونډ کړی وو. کله چې د طالوت هغو لږو لښکرو چې پر ستړیا او تنده یې صبر وکړ او تر سیند پوري وتل د دښمن غښتلتیا او ډېرښت او خپل لږوالی ولید، په اندېښنه کې سول او ویې ویل:

﴿ لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ ﴾ [البقره ۲: ۲۴۹]

ژباړه: نن په موږ کې د جالوت او د هغه د لښکرو سره د مقابلې هیڅ وس نسته.

خو د دوی عالمانو او یو شمېر زړه ورو جګړنو وویل چې:

﴿ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾]البقره ۲: ۲۴۹]

ژباړه: ډېر ځله داسي سوي دي چې يوه کوچنۍ ډله د الله په امر پر يوه لويه ډله لاسبري سوي دي.

نو موږ هم که خداى کول بريالي کيږو. په دې توګه يې خپلو اندښمنو ملګرو ته دلاوري ورکړه او طالوت ته يې وويل چې خپل کار ته ادامه ورکړه. په دې توګه ټولو د جالوت د پوځونو جګړې ته په مړانه ورودانکل. وايي چې جالوت د خپلو لښکرو له منځه راووت او د طالوت لښکريانو ته يې ناري کړه چې هر څوک چې ځان ته يو څه وايي زما سره دي تن په تن وجنګيږي. خو که څه هم طالوت اعلان کړى وو چې که هر چا جالوت وواژه غټ انعام ورکوم، خپله لور به هم ور په نکاح کړم او تر ما وروسته به پاچهي هم د هغه وي. خو بيا هم د هغه لښکريان له وېرې نه ور وړاندي کېدل. وايي چې د بيت اللحم د يوه اوسېدونکي د لږ عمر زوى داود نومي چې د يهودا بن يعقوب عليه السلام له اولادې څخه وو واورېدل چې جالوت رقم رقم غټ بازى کوي او پوچ وپاش وايي خو هيڅوک يې مقابلې ته نه وردانګي، نو د دغه کم سنه ځوان غيرت پر ښور راغى، له طالوت څخه تر اجازې وروسته د جالوت مقابلې ته ور وړاندي سو او په داسي حال کي چې د هيچا زړه ته نه لوېده چې دغه د لږ عمر ځوان به څه وکړي، دغه مغروره ظالم يې وواژه. چې د دې په ليدو سره د هغه په لښکرو هم ماته ګډه سوه او وتښتېدل او په دې حال کي ډېر ووژل سول. لوى څښتن دا پېښه داسي بيانوي:

﴿ فَهَزَمُوهُمْ بِإِذْنِ اللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ (٢٥١) ﴾]البقره ٢: ٢٥١[

ژباړه:په پاى کي د الله په امر هغو د جالوت ملګري وتښتول. او داودجالوت وواژه او الله هغه ته واکمني او د دين پوهه ورپه برخه کړه او هر هغه څه يې ورزده کړل چې الله غوښتل. او که الله په دغه ډول د يوې ډلې دفاع په بله ډله نه کولاى، نو مځکه به ورانه سوې واى. خو دا پر ټولو نړۍ والو باندي د الله لوى فضل دى.

د داود عليه السلام واک ته رسېدل:

څنګه چې داود عليه السلام جالوت وواژه نو طالوت ته ډېر ورتېر سو او د ټول پوځ د مشر په توګه وټاکل سو او ډېر فتوحات يې وکړل. طالوت خپله لور هم ورکړه .بني اسرائيلو هم د داود عليه السلام سره د ده د مړاني او ښو کړنو په سبب مينه لرل او په درنه سترګه يې ورته کتل. لوى څښتن بني اسرائيلو ته تر ذلت او لالهاندى وروسته يو ځل بيا عزت او واک ور په برخه کړ. کله چې طالوت وفات سو، داود عليه السلام د "حبرون" ښار ته چې اوس يې "الخليل" بولي

ولاړ. د يهودا د قبيلې خلک پر هغه راټول سول او هغه يې خپل واکمن وټاکی. خو نورو اسرائيلو د طالوت زوی "اشبوشت" خپل پاچا وټاکی. بيا د طالوت د زوی او داود عليه السلام د پوځيانو ترمنځ جګړې وسوې چې پای "اشبوشت" ووژل سو او داود عليه السلام پر "حبرون" باندې تر څه له پاسه اووه کاله واکمنی وروسته په اورشليم (بيت اتلمقدس) کې (۳۳) کاله پر ټولو بنې اسرائيلو باندې پاچا وو. هغه په عدل او انصاف حکومت کاوه او د يهودو ټول قبايل يې سره يوموټی کړل.

د داود عليه السلام پيغمبري:

کله چې حضرت داود عليه السلام څلويښت کلنی ته ورسېد لوی څښتن هغه ته پر پاچهي سربېره د نبوت منصب هم ورکړ. په کتابونو کې راوړي چې لوی څښتن پر داود عليه السلام باندې د "زبور" په نامه کتاب چې اهل کتاب يې "المزمير" بولي، نازل کړ، کوم چې پر قصايدو، اشعارو او ترانو مشتمل دی او ډول ډول نصيحتونه، د لوی څښتن تمجيد او توصيف، ديني او وجداني رقايق،اذکار، لمونځونه، مناجات او د ثواب او عقاب بيانونه پکښې راغلي دي. د دې کتاب زياتره مزامير حضرت داود عليه السلام ويلي دي او ځيني تر ده وروسته نورو پرورزيات کړي دي. داود عليه السلام سربېره پر دې چې علم او حکمت او زيات شمېر نور فضايل ورکړه سوي وه، ډېر ښه آواز هم درلود او کله چې به يې زبور لوستی او يا به يې د لوی څښتن تسبيح او حمد وايه انسانان، پېرانان او الوتونکي به ټول ورته غوږ سول او د ده په خواږه آواز کې پر قرائت او حمد او تسبيحاتو به يې خوند اخيستی.

د داود عليه السلام وفات:

اهل کتاب د داود عليه السلام وفات په (۷۷) کلنی کې ګڼي. خو اسلامي عالمانو د حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د يوه حديث او نورو څېړنو له مخې جوته کړې ده چې هغه د سلو کالو په عمر وفات سو او خپله ستره واکمني يې خپل زوی سليمان عليه السلام ته پرېښوول. تاريخونه وايي چې د دې دواړو پيغمبرانو د پاچهی دوره له شاوخوا ۱۰۰۰ تر ۹۲۲ قبل الميلاد پورې وغځېده. د حضرت داود عليه السلام قبر د "صيون" پر غره باندې دی.

(له نن ټکې آسيانه په منه)

سید شریف

د حمل ۱۶مه دافغان ولس دنیکمرغی ورځ

د ۱۳۷۵هش کال دحمل دمیاشتي په ۱۶مه نیټه کندهار کي ۱۵۰۰دیني علماوو،جهادی قوماندانانو او قومي مخورو ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ته دامیر المؤمنین لقب ورکړ،دغه ورځ دهیواد څخه دشر او فساد د کرغیړن ټغر د ټولیدو او د سر تاسري امنیت او اسلامي نظام د قیام پیلامه شوه.

